# د سوات په رياست کښې د تعليم نظام

1. Dr. Mohammad Ali Dinal Khel, lecturer, Area Study Centre, University of Peshawar

## Abstract

Swat State emerged in 1915. First school was established in Swat in 1922. During Minagul Abdul Wadud's reign he also established two State run institutions for religious education. In the beginning the people of Swat financially supported schools in Swat. Later on State was enabled to support education in Swat. First college was established in Swat during the reign of Miangul Jahanzeb. This article explore the development and prominent features of informal, religious and modern education in Swat State.

Key Words: Swat State, Education, Wali of Swat, Jahanzeb College, Madrasa education.

## د سوات رياست

په ۲۴ اپرېل کال ۱۹۱۵ کښې عبدالجبار شاه د سوات د خلقو د جرګې په لار د سوات بادشاه وټاکلے شۀ -[i] او د دې انتخاب سره په سوات کښې د يو باقاعده رياست بنياد هم کېښودے شۀ - په دوېم ستمبر کال ۱۹۱۷ عبدالجبار شاه د حکومت نه معزول کړے شۀ په دې وجه چې په هغه باندې د قادياني ډلې سره د تعلق الزام ولګېدۀ -[ii] او هم په دغه ستمبر ۱۹۱۷ کښې د سوات جرګې د بادشاهۍ پګړۍ د عبدالودود په سر کېښودله -[iii] برطانوي حکومت په ۱۹۲۶ کښې د سوات رياست تسليم کړۀ -[iv]هغه د کال ۱۹۴۹ پورې د سوات والي ؤ او په دولسم دسمبر ۱۹۴۹ يې د سوات د رياست اختيار خپل ځوي ميا ګل عبدالحق جهانزېب ته حواله کړۀ - ميا ګل عبدالودود د حکومت نه د دستبردارۍ دوه وجې ښائي يو هغه وائي چې زما د علم حاصلولو شوق وۀ او دويم ما غوښتل چې د سوات د خلقو اخلاقي اصلاح اوکړم -[v]ميا ګل عبدلاحق جهانزېب په ۲۱ مئي ۱۹۲۳ کښې ولي عهد منتخب کړے شوے ؤ- او په ۱۵ مئي ۱۹۳۳ کښې برطانوي حکومت د ولي عهد عهده تسليم کړے وه -[vi] مياګل عبدالحق جهانزېب د سوات د رياست د اخري والي په حېث د کال ۱۹۶۹ پورې د سوات والي ؤ - چيف مارشل لاء ايډمنسټرېټر يحيٰي خان د 1962 د آئين د دفعه 233 کلاز نمبر 3 لاندې صدارتي اختيارات استعمال کړۀ او په 28 جولائي 1969 يې په رياست سوات کښې د انتظامي بدلونونو اعلان اوکړو - چې باقاعده نوټيفکيشن يې په 15 اګست 1969 باندې اوشۀ -[vii] د ادغام د دې ريګوليشن د سيکشن B مطابق د ملاکنډ ډويژن د وړمبي کمشنر تقرري په 16 اګست 1969 وشوه - [viii] د ده نوم سېدمنېر حسېن وۀ - [ix] د مغربي پاکستان ګورنرد ملاکنډ ډويژن کمشنر له د والي اختيارات ورکړل -[x] په 18 اګست 1969 محمد همايون خان د سوات وړومبے ډپټي کمشنر مقرر شۀ - [xi] په دغه وخت کښې چې کومې علاقې په سوات ضلع کښې شاملې وې هغې کښې موجوده بونېر، شانګله او د آباسين نه راپورې د کوهستان حصې هم شاملې وې - په 1976 کښې د اباسين نه ښي طرف ته د کوهستان حصې د سوات نه جدا کړے شوې او ځانله د کوهستان په نامه يوه ضلع جوړه کړې شوه -[xii] دغه رنګ په 1991ء کښې د بونېر علاقې هم جدا کړې شوې او ځانله بونېر ضلع جوړه کړې شوه - [xiii] او په 1995 کښې د شانګلې علاقې جد ا کړې شوې او د شانګله په نوم يوه ضلع جوړه کړې شوه - [xiv]

## په سوات کښې د تعليم ارتقائي جائزه

د دې دور د ادب د مطالعې نه دا معلوميږي چې وړومبۍ زدکړې به خلقو په کور کښې د مور و پلار يا نيا نېکه نه کولې - يعني بنيادي د عقيدې خبرې او کلمه او مونځ به يې په کور کښې د مشرانو نه ايزده کول - په خصوصي توګه مونځ به په کور کښې ماشومانو ته د ماسخوتن په وخت نيا ايزده کولو - کوم طرف ته چې په دې شعر کښې خوشحال خان اشاره کړې ده -

الغرض چې یې خبره کړه اغازه
ډېر یې ووئیل د خپلې نیاله نمازه[xv]

د دې نه وروستو به باقاعده زدکړې د جومات د ملا نه کېدلې ۔ لکه څنګه چې اخوند درویزه وائي چې ملا مصراحمد راته په تختئ حروف تهجي اولیکل ۔ [xvi] چې څوک به تصوّف ته تلل نو هغوي به "جام جهان نمائے" کتاب وئېلو ۔ [xvii] بیلیو د یو ماشوم د تعلیم په باره کښې داسې لیکي ۔

> After circumcision, the young yusafzai is taught his creed and the ordinary forms of prayer, and is instructed in the principal tenets and observances of the Mahommdan religion; and this, with but few exceptions, is all the education he receives.[xviii]

ترجمه: د ختنه کولو نه وروستو یوسفزي ماشوم ته بنیادي عقیده، دعاګانې او مونځونه ښودلې شي ۔ بنیادي عقېدې او د محمدي مذهب د پابندئ هدایات ورته کولے شي ۔ او د ډېرو کمو خلقو نه علاوه د زیاتو د پاره دا ټول تعلیم دے ۔د علمي تحصیلاتو د لواز ماتو ذکر د عبدالحلیم په دې اشعارو کښې موندے شي ۔

دغه پسه دا مړده ورته وائي
چې مشوانئ توري قلم راخخه نشته
نۀ مې ګوتې دي په لاس کښې چې یې چاپ کړم
دا مړده پکښې حصار شي[xix]

د مهر دپاره به د ګوتئ چاپ استعمالولې شۀ هغې طرف پکښې هم اشاره شوې ده ۔

## د ریاست سوات تعلیمي نظام

ریاست کښې اول اول د تعلیم د احال وۀ چې که چرې د میا ګل عبدالودود په نوم به چرته خط راغے نو هغه خط به یې په لاس د یو قاصد تهاني (مالاکنډ ایجنسي) ته اولېږلو او قاصد به بیا د خط زباني تشریح میا ګل عبدالودود ته کوله ۔[xx]په ریاست سوات کښې د تعلیم باره کښې سېد عبدالغور قاسمي لیکي چې د ریاست پۀ ابتدائي زمانه کښې د علم د حاصلو لو مکمل انتظام میا ګل عبدالودود شروع کۀ ۔ په هر کلي کښې یو دوه عالمان داسې وو چې هغوي د مذهب د اعلٰي تعلیم مدرّسان وو ۔ حکومت هاغه عالمانو له باقاعده تنخواه ورکوله ۔ د هر جماعت امام ته حکم وۀ چې هغه دې د محلي ماشومانو ته مونځ، قران او د دین ضروریات ښائي ۔ مکتبونه او مدرسي یې هم جاري کړې وې چې متو سط تعلیم په هغې کښې حاصلېدلو ۔ د اعلٰي تعلیم د پاره به طالبعلمان د انګریزي علاقې کالجونو کښې داخلېدل او ریاست به د هغوي ټول خرچ په دې شرط برداشت کولو چې دوي به په ریاست کښې پېنځه کاله ملازمت کوي او ریاست به دوي له معقوله تنخواه ورکوي ۔ په اول دور کښې د متوسط تعلیم دپاره په سېدو شریف کښې یو انګرېزي مډل سکول وۀ ۔[xxi] یاده دې وي چې دا د1939 خبرې دي کوم وخت کښې چې جهانزېب کالج نه وۀ جوړ شوے ۔

زېب سر د رياست د تعليمي ترقۍ پۀ حواله داسې ليکي ـ

او ابـــادې هـــم د علــم مدرســـې شـــوې
د جمـــال کمـــال نصـــيب تـــرې نـــه حصـــې شـــوې
وظـــائف د علمـــاؤ مقـــرر شـــو
مســـتحق د هـــر يـــو قـــدر هنـــر ورشـــو[xxii]

کله چې دلته تعليمي ادارې جوړې شوې نو بيا هم د زنانو د تعليم طرف ته رحجان کم وۀ او يوه پېغله جينۍ سکول ته لېږل به د شرم کار وۀ ـ[xxiii]

په سوات کښې په رياستي دور کښې په تعليم کښې ښۀ ترقي شوې وه ـ د ميا ګل عبدالودود په وخت کښې په دې کار شروع شۀ او بيا د مياګل جهانزېب په وخت کښې په تعليمي ادارو کښې زياتوالے راغے ـ

باچا صاحب د رياست په ابتدا کښې د علم حاصلولو اسان انتظام شروع کړے وۀ ـ په هر کلي کښې به يو دوه عالمان داسې وو چې هغوي به د مذهب د اعلي تعليم مدرسان وو ـ حکومت به دغه عالمانو له باقاعده تنخواه ورکوله ـ د هر جماعت امام ته به دا حکم وۀ چې هغه دې د محلې وړو ته مونځ، قران او د دين ضروريات ښائي ـ[xxiv] د رياست دوه نيم سوه عالمانو ته به يې باقاعده تنخواه ورکوله ـ[xxv] په دې عالمانو کښې به اکثر د دارالعلوم دېوبند، دهلي، رام پور، بهوپال، او سهارن پور سند لرونکي وو ـ[xxvi] په اول کښې د جماعتونو امامان موروثي وو که هغه به د امامت د منصب اهل وو او کنه وو خو امامت به يې کولو ـ بادشاه صاحب دې خلقو ته د بې قدرۍ په نظر وکتل او هغوي ته يې د هغوي د کمي احساس ورکړو ـ د دې له وجې نه هغوي د امامت ضروري مسائل زده کول شروع کړل ـ باچا صاحب داسې امامانو ته پينځه کاله مهلت ورکړے وۀ چې دا قسمه امامان خپل ديني تعليم پوره کړي او د محلې ماشومانو ته ابتدائي ديني تعليم ورکړي ـ[xxvii]

د ميا ګل عبدالودود تعليم
مياګل عبدالودود بې تعليمه ؤ خو د جديد تعليم د ضرورت او اهميت نه خبر وۀ ـ د يولسو کالو په عمر کښې چې پلار يې کله وفات شو نو د مور په انتظام يې د پاسني بابا په اتاليقۍ کښې د قران شريف، فقې او فارسۍ ابتدائي تعليم حاصل کړۀ ـ[xxviii] د پاسني ملا صاحب نه يې د پښتو تعليم هم حاصل کړے وۀ ـ[xxix] باچا صاحب د قران پاک يو کم دېرشمه او دېر شمه دوه سيپارې په ياده يادې کړې وې ـ[xxx] باچا صاحب به د هندوستان اخبارونه، د پښتو قيصې، دېوانونه، تاريخي کتابونه، د نامورانو سوانح عمرۍ، او شاهنامه اورېدله ـ د دنيا په نقشه او جغرافيه پوهېدلو ـ د يورپ د لوئے جنګ قيصه به يې د اول نه تر اخره پورې بيانوله ـ او د اسلامي تاريخ نه هم واقف وۀ ـ[xxxi] باچا صاحب به په اردو او فارسۍ کښې خبرې کولے شوې او په انګرېزۍ او عربۍ به پوهېدلو خو وئيلے يې نۀ شوه ـ[xxxii] ايراني سېل ګر محمود دانشور په خپل کتاب (مطبوعه ۱۹۵۳) کښې ليکلي دي چې زۀ د باچا صاحب سره مېلاو شوم او هغه د عربۍ او د فارسۍ کتابونو پښتو ته ترجمه کوي ـ[xxxiii] په ريډيو به يې د دنيا د لويو لويو هوښيارانو او مقررانو تقريرونه اورېدل ـ[xxxiv] د هغه د علم پرورۍ په وجه په رياست کښې د عالمانو، شاعرانو، اديبانو او د هنر د خاوندانو عزت کېدلو ـ[xxxv]
د ميا ګل عبدالودود د اولاد تعليم
د پښتو په زمانه کښې يې خپل دواړه ځامن او ورارۀ په اسلاميه کالج کښې داخل کړل ـ د مولانا قطب شه عباسي مرحوم غوندې عالم يې د شهزادګانو اتاليق مقرر کړۀ ـ[xxxvi] ميا ګل عبدالحق جهانزېب د عربۍ علوم د مولانا حافظ عبدالجميل د طورو نه کړے وۀ ـ[xxxvii]

## مذهبي تعليم

مذهبي تعلیم به په جماعت او مدرسه کښې ورکولے شۀ ـ  عام طور به د کلېو ماشومان د مذهبي ایزدکړو د پاره سحر جماعتونو ته لېږل، که یو طرف ته د جماعتونو نه به سحر کښې د قران خوانۍ خواږه اوازونه راتلل نو بل پلو ته به سحر باندې د هر کور نه د قران د تلاوت اوازونه راتلل ـ زنانو به قران خامخا ایزده کولو او ورسره به یې نورنامه، جنګ نامه او کیمیائے سعادت لوستلو او دغه شان به یې د دے له برکته پښتو ژبه په ډېره اسانه سره لوستلې شوه ـ [xxxviii] د مذهبي زدکړو د پاره چې کوم طالبان په جماعتونو یا مدرسو کښې پاتې کېدل د هغوي د خوراک باره کښې یو شاعر داسې لیکي ـ

نن صبا ډوډۍ غواړي طالبان
دا د سوات بونېر رواج دے شم قربان
د اخون نه شروع شوے دا دستور دے
هر طالب پۀ دغه چېر باندې مامور دے
د غټانو بچے اوکړي ډېر تعلیم
د غریب بچے هیله جوړ شي علیم[xxxix]

کوم ماشومان چې په دیني مدرسو کښې سبق وائي نو هغوي د روټۍ په وخت په کلي او چم پړه شي او ځانله ډوډۍ راجمع کړي ـ دې ته وظیفې  یا چړ وئېلے شي ـ

دمذهبي تعليم د حاصلولو د پاره په سېدوشريف کښې يوه ديني مدرسه هم جوړه شوې وه ـ[xl]دې مدرسې ته حقانيه يونيورسټي وائي ـ[xli] په سکولونو او کالجونو کښې به د بنيادي ديني علومونه علاوه صرف عصري علوم زده کولے شول ـ او ديني علوم به په ديني مدرسو کښې حاصلېدل ـ خو بيا هم وخت په وخت داکوشش شوے وۀ چې په سکولونو کالجونو کښې دې هم دا علوم شامل شي ـ لکه د تفسير تيسير په ديبا چه کښې د مصنف ځوے مولوي محمد صالح داسې ليکي ـ

> که چرې حکومت عاليه د سوات پۀ خپله محکمه تعليم کښې د دوېم کلاس نه ترآخره پورې تدريجاً دي [تفسير تيسر] لره رواج ورکړي نو عام و خاص به ترې فائده واخلي او د مصنّف مرحوم د پاره به تر قيامته پورې باعث خېر او حقيقي يادګار پاتې شي او د خپلې پښتو ژبې قدر قيمت به هم اوکړے شي ـ[xlii]

باچاصاحب د مذهبي تعليم باره کښې داسې وائي

> ماپه خپل عهد حکومت کښې چې تعليم د پاره کوم جدوجهد کړے هغه دا دے چې ابتدا نه زما دا طريقه ده چې کومه علاقه به ما حکومت کښې شامله کړه نو هغې علاقې کښې به ما تنخوا خواره مدرسين مقرر کړل چې خلقو ته مذهبي تعليم او خط ښائي ـ بيا د خپل ولي عهد جهانزېب په وېنا او په تجويز سېدو شريف کښې د مذهبي تعليم يو دارالعلوم مو قائم کړو ـ د دې دارالعلوم يو ښاخ چارباغ کښې جوړ کړۀ ـ چې هغه يو پرائمري دارالعلوم دے ـ بيا د مختلفو علاقو مشهور او مستند عالمان مې د سېدو دارالعلوم کښې مدرسين مقرر کړل ـ دارالعلوم د پاره کتابونه او نور ساز وسامان مې په سرکاري خرڅ مهيا کړل ـ دې کښې شک نشته چې د سېدوشريف حقانيه دارالعلوم تر دې وخته ډېر ښۀ کار کوي ـ او د قيام نه تر دې وخته د سابق صوبه سرحد، افغانستان، بلوچستان، چترال، دير، باجوړ، تيراه، وزيرستان، او د رياست سوات زرګونو خلقو د دې دارالعلوم نه د تعليم فېض حاصل کړے دے ـ او د علم دا پاکيزه چينه لا جاري ده خلق ترې فېض حاصلوي ـ[xliii]

په اول کښې د باچا صاحب دا خواهش وۀ چې د قران مجيد عام او اسانه پښتو ترجمه شائع شي ـ چې خلق د قران پاک په مطلب پوهه شي ـ[xliv]

دارالعلوم حقانيه

اسلاميه دارالعلوم په سېدو شريف کښې په ۱۹۴۵ کښې قائم شو ـ په دغه کال بله ديني اداره د کمې درجې په چارباغ کښې هم پرانستے شوه ـ ۳۴  د دې ادارو د قيام نه مخکښې به د سوات خلق نورو مدرسو لکه دېوبند، رامپور، او دهلي ته د اسلامي تعليم د پاره تلل ـ په (۱۹۶۳) کښې په دې دارالعلومونو کښې لس کم دوه سوه طالب علمان وو ـ تعليم پکښې مفت دے ـ کتابونه او کپړې هم مفت دي ـ د نصاب غټې برخې يې دا دي ـ

۱ـ د پيغمبر پاک صلعم روايات

Pukhtunkhwa Journal

۲۔ د عربو فنون او هنرونه

په دې غرض چې د دې مدرسو طالب علمان د جديد تعليم سره په رابطه کښې وي په نصاب کښې انګريزي، فارسي، اردو او طب هم شامل شوي دي ـ په دې کښې د خارجي امتحان نظام نشته ـ د ترقۍ د پاره غېر رسمي داخلي امتحان وي ـ مخ ۳۵ فارغ التحصيل طلباو ته د رياست د عدليه په محکمه کښې يا په محکمه تعليم کښې د اسلاميات د استاذ په حېث نوکري مېلاويږي ـ[xlv]

په رياست سوات کښې وړومبے سکول د مارچ ۱۹۲۲ نه اول جوړ شوے وۀ ـ په رياست سوات کښې وړومبے استاذ د مردان اديني شمس الحق وۀ ـ سوات ته د راتګ نه وړاندې هغه په ترلاندۍ، کوټه او جبي کوهاټ کښې استاد پاتې شوے وۀ ـ او بيا د نوکرۍ نه ويستلے شوے وۀ ـ [xlvi]

په سوات کښې دوه پنځوس ابتدائي او څلور متوسطه مکتبونه او يو هائي سکول شته ـ د متوسطو مکتبونو نصاب يې تاريخ، جغرافيه، انشاء، ادب، علم الاشياء، حساب، عربي، فارسي، پښتو او انګريزي دي ـ[xlvii]

د پښتو تدريس

جهانزېب کالج پۀ 1952کښې جوړ شوے دے او څۀ وخت وروستو پکښې پښتو د يوولسم دولسم پۀ سطح دا ختياري مضمون پۀ حېث ښودلې کيده ـ او داسې معلو مېږي چې د 1969پورې پښتو پۀ ډګرې کلاسونو کښې د وئېلو اجازت نۀ وۀ ـ د جهانزېب کالج د ايلم رسالې د دسمبر 1969په ګڼه کښې د پښتو برخې مدير پۀ دې حوله پۀ اداريه کښې داسې ليکي چې تراوسه پورې پۀ دې کالج کښې پښتو د يو اختياري مضمون پۀ حېث صرف د دولسم جماعته پورې د اخستو اجازت وۀ، د ډګرې پۀ کلاسونو کښې پۀ دې پابندي وه ـ[xlviii]

جديد تعليم د باچاصاحب په زمانه کښې

د ۱۹۲۶ نه د ۱۹۳۱ پورې رياستي حکومت يو څو سکولونه پرانستلي وو خو د تعليم په حقله د خلقو رويه مخالفانه او غېر دوستانه وه ـ د خلقو دا خيال وۀ چې عصري تعليم (د سکول تعليم) د مذهب د پاره نقصاني دے او د دې سره خلق هم بزدله کيږي ـ خلق د جديد تعليم خلاف وو او په جماعت کښې د مذهبي تعليم په حق کښې وو ـ په دوي کښې زيات مخالف مليان وو ځکه چې د هغوي سره دا وېره وه چې که دا خلق تعليم يافته شي نو زمونږ چې کوم عزت او قدر د بې تعليمه او جاهله خلقو کښې وۀ هغه به بيا نۀ وي ـ د دې وجې نه به هغوي خلقو ته وئېل چې خپل بچي سکولونو ته مه پرېږئ ـ[xlix] هغوي به خلقو ته جي تليم په مخالفت کښې سائنس مال ورکولو او وئېل به يې چې جديد تعليم لکه د سائنس د اسلام د اصولو خلاف وي ـ هغوي دا هم وائي چې د جديد تعليم سره خلق تن اسانه شي او بيا د دشمن خلاف جنګ نۀ شي کولے ـبادشاه صاحب به د خلقو تعليم طرف ته د راغب کولو کوشش کولو او خلقو ته به يې د نوکرۍ پېشکش هم کولو خو دې خلقو به وئېل چې "دا ټول خلق به ميرزاګان کيږي"؟ [l] د جديد تعليم نه د خلقو د نفرت بله وجه د انګرېزانو نه نفرت هم وۀ ـ بله وجه دا وه چې خلقو غوښتل چې د هغوي بچي دې په پټو کښې د هغوي سره کارونه کوي ـ [li] د خلقو د دې مخالفانه رويې اود طالب علمانو د نۀ داخلېدو په وجه ټول سکولونه بند کړے شو خو يو سکول په سېدو کښې پاتې شو او يو بل سکول چې ډېر کم تعداد پکښې وۀ په بريکوټ کښې پاتې شو ـ[lii] خو حقيقت داسې نۀ ښکاري چې د طالب علمانو د نۀ داخلېدلو په وجه دې سکولونه بند شوي وي بلکې داسې وائي چې پوليټيکل ايجنټ مالاکنډ باچا صاحب ته ووئېل چې کله مونږ خلق ته تعليم ورکړو نو نن هغوي زمونږ خلاف بغاوت کوي او که ته دوي تعليم يافته کول غواړې نو سبا به دوي ستا خلاف هم داسې راپاڅي ـ[liii]

پرائېوېټ سکولونه يا مکتب سکولونه

په ۱۹۳۳ کښې د لړ تعليم هغه کسان چې د سېدو شريف نه فارغ شوي وو يا د نورو بندوبستي ضلعو نه يې تعليم حاصل کړے ؤ هغوي په علاقه کښې پروئېوېټ سکولونه قائمول شروع کړل چې به يې ورته مکتب يا مدرسه وئېل ـ چونکې خلق د عصري تعليم خلاف وو نو ځکه به دې استاذانو به د مذهبي تعليم سره روايتي مضامين ښودل ـ زيات تاکيد به په خط ليکلو وؤ او د ټولو زده کونکيو نه به دا توقع لرلے شوه چې دوي به د شپږم جماعت پورې د شېخ سعدي دوه کتابونه بوستان او ګلستان زده کوي ـ د دې سکولونو د امتحان طريقه ساده وه ـ استاد به پخپله امتحان اخستلو او بيا به يې د کارکردګۍ په بنياد پاس کول ـ په دې کښې زيات مکتبونه پرائمري وو او په غټو کليو لکه مينګوره، اوډيګرام، ټيندوډاګ، غاليګے، پاچا کلے ډګر، کوټه، باندۍ، چارباغ، بحرېن، خوازه خېله، چکېسر، بشام، او کبل کښې وو ـپه دې مکتب سکولونو کښې د تعليم پوره کولو نه بعد به بعضي طالب علمانو د نور تعليم د باره په ودوديه سکول کښې داخله اخستله .هلته به د داخلې نه وړاندې د دوي نه ټسټ اخستلے شو ـ د دې مکتبونو استاذانو ته به د دوي د خدماتو په بدله کښې د فصل د رېبلو په وخت کښې به په لړ مقدار کښې غله ورکولے کېدله ـ د دې نه علاوه د طالب علمانو د پاره دا هم ضروري وو چې استاذ له په نمبر ډوډۍ وکړي ـ چې کله به د مکتب چهټياني کېدلې نو طالب علمانو به د څلورو انو نه وخله تر يوې روپۍ پورې استاذ له د ريفرشمنټ د پاره ورکولے ـ اګر چې د دې استاذانو د خدماتو معاوضه ډېره کمه وه خو خلقو به يې ډېر عزت کولو او دوي هم په خپل قسمت ښهٔ مطمن وو .[liv] د ۱۹۴۹ نه وروستو چې کله والي سرکاري سکولونه جوړول شروع کړل نو چې په کوم کلي کښې به يې سکول جوړ کړو نو د هغه ځائے مکتب سکول به يې ختم کړو او هغه استاذ ته به يې د هغه د کور سره په نزدې سکول کښې نوکري ورکړه ـ [lv] د جهانزېب والي په وخت کښې په رياست کښې پرائېوېټ سکولونه نهٔ وو سوا د کرسچن مشن سکول سنګوټې نه کوم چې د 1950 په لسيزه کښې اخر ته جوړ شو ـ د دې سکول د پاره زمکه هم رياست اخستے وه او د بلډنګ جوړولو پېسې هم رياست ورکړې وې ـ [lvi]

په رياست کښې وړومبے پرائمري سکول

بونېر خان ليکلي دي چې په ۱۹۲۶ کښې په سېدو شريف کښې يو پرائمري سکول پرانستے شهٔ ـ [lvii]

خو ډاکټر سلطان روم ليکلي دي چې اولنے سکول
د ۱۹۲۸ نه د ۱۹۳۱ پورې په نورو اهمو کليو لکه بريکوټ، چارباغ، چکېسر، ډګر، او پاچا کلي کښې پرائمري سکولونه پرانستے شو ـ په دې کښې د بريکوټ سکول په ۱۹۲۸ کښې او دا نور په ۱۹۳۱ کښې پرانستلے شوي وو [lviii]

کله چې به ماشوم د لسو کالو شو نو هغه به د ابتدائي ديني او دنياوي تعليم نه فارغ شوے وهٔ ـ او بيا به د رياست په باقاعده سکول کښې داخل شو ـ د رياست په سکول کښې به ماشوم ته تاريخ، جغرافيه، انشا، علم ادب، علم الاشيا، حساب، عربي، فارسي، اردو، انګريزي او د پښتو تعليم ورکېدلو ـ د دې نه وروستو به هر طالب علم ته دا اختيار وهٔ چې هغه د خپلې مرضی مطابق ډاکټری، انجينيری، صنعت، حرفت، قانون، سپاه ګري، يا په عالم کښې نور مروجه جديد علوم او فنون حاصلول غواړي نو هغه حاصلولے شي ـ د اعلي تعليم د مکمل کولو د پاره رياست خپل طالب علمان د برطانوي هند کالجونو او تعليمي ادارو کښې داخلوي او ټول انتظام يې په رياست وي ـ په رياست کښې پرائمري او سيکنډري تعليم مفت دے ـ د اعلي تعليم د پاره چې څوک د رياست نه بهر ولېږلے شي نو د هغوي خرچه رياست په دې شرط کوي چې دوي به پينځه کاله په رياست کښې ملازمت کوي ـ که څوک په خپله خوښه بل کاروبار کول غواړي نو بيا به د تعليم مصرف واپس رياست ته ورکوي ـ د پرائمري تعليم د پاره د رياست په تحصيلونو کښې سکولونه پرانستے شوي دي ـ د ثانوي تعليم د پاره د رياست په دارالحکومت سېدو شريف کښې يو انګريزي مډل سکول دے چې ډېر زر به هائي شي ـ[lix]

باچا صاحب مکتبونه او مدرسي جاري کړې چې په هغې کښې به متوسط تعليم حاصلېدلو. د اعلي تعليم د پاره به طالب علمان د انګريزي علاقې په کالجونو کښې داخلېدل او رياست به د هغوي ټوله خرچه په دې شرط برداشت کوله چې دوي به پينځه کاله په رياست کښې ملازمت کوي او رياست به دوي له معقوله تنخواه ورکوي ـ [lx]
وړومبے مډل سکول

د متوسط تعلیم د پاره په سیدو شریف کښې انګرېزي مډل سکول دے او نور سکولونه هم زېر تجویز دي ۔[lxi] بونېر خان لیکلي دي چې وړومبي پرائمري سکول ته په ۱۹۲۸ کښې د مډل درجه ورکړے شوه ۔ کله چې د دې سکول طالب علمانو د اتم امتحان پاس کړو نو په دوي کښې زیات د ریاست په ملازمت کښې شامل شو ۔ په دوي کښې کلرکان، ډسپنسران او استاذان جوړ شو کوم چې په هغه وخت کښې د ریاست یو ضرورت وۀ ۔ دا د ریاست وړومبے سکول وۀ کوم چې په ۱۹۴۰ کښې هائي لېول ته اپ ګرېډ شۀ ۔[lxii] خو پولیټیکل ایجنټ مالاکنډ په ۱۹۲۷ کښې په یو رپورټ کښې لیکلي دي چې د برټش انډین حکومت په مرسته عبدالودود یو اے ۔ وي مډل سکول په سیدو شریف کښې جوړ کړو۔ په دغه رپورټ کښې دا هم لیکلے شوي دي چې هغه په خپل ریاست کښې دولس پرائمري سکولونه جوړ کړي دي ۔ په تعلیم ټوله خرچه اتلس زره روپۍ د کال لګي ۔ د والي په درخواست په باقاعدګی سره د برټش انډین حکومت افسران د دې سکولونو معائنه کوي ۔[lxiii]

وړومبے هائي سکول (ودودیه هائي سکول)

په سیدو شریف کښې وړومبے سکول چې اول پرائمري وۀ بیا مډل شۀ او په ۱۹۴۰ کښې ورته د هائي سکول درجه ورکړے شوه ۔ [lxiv]د دې سکول نوم ودودیه هائي سکول وۀ ۔ میا ګل عبدالودود په خپل سوانح حیات کښې د ودودیه هائي سکول باره کښې داسې وائي ۔

> زما عهد حکومت کښې یو هائي سکول په سیدو شریف کښې او یو مډل سکول په بریکوټ کښې وو ۔ د ریاست سوات اکثر کارداران، حاکمان او تحصیلداران او پرائیوېټ ډاکټران د ودودیه هائي سکول نه فارغ التحصیل دي ۔ اګرچې دا یو هائي سکول وۀ خو بیا هم مونږه دغه یو سکول ته دومره اهمیت ورکړے وۀ چې د سکول معیار ډېر ښۀ وۀ ۔ د سابق صوبه سرحد ډېر مشهور فاضلان په ودودیه هائي سکول کښې مدرسین پاتي شوي دي ۔ او دا هم حقیقت دے چې د ریاست سوات د تعلیمي ترقي او عروج د پاره لاري هم دغه یوه هائي سکول هواري کړي دي ۔ او د نوي سوات په تعمیر کښې یې ډېره حصه اخستې ده ۔ ۱۹۵۲ کښې چې سوات کښې کالج جوړ شۀ نو بیا دا سکول ختم شۀ ۔ نن سبا ریاست سوات کښې هائي سکولونه ګڼ دي ۔ او مډل سکلولونه هم ډېر دي ۔ خو دا نور هائي او مډل سکولونه زما د جانشین یعني د جهانزېب د عهد حکومت سره تعلق لري ۔[lxv]

Pukhtunkhwa Journal

جدید تعلیم د میاګل جهانزېب په دور کښې

د ریاست سوات اخري والي میا ګل جهانزېب د جدید تعلیم په حقله وئیلي دي چې کله چې هغه حکمران منتخب شو نو د هغه وخت نه په ریاست کښې تعلیم ته وده ورکولو کښې د هغه دلچسپي وه ۔ هغه د اول نه په دې کار شروع کړه خو دا کار دومره په تېزۍ سره نۀ وۀ ۔[lxvi] میا ګل جهانزېب چې کله په ۱۹۴۹ کښې اقتدار په لاس کښې واخستلو نو هغه د تعلیم د حالاتو نه مطمن نۀ وۀ او هغه اصلاحات کول غوښتل ۔ د جدید تعلیم د اصلاحاتو په حقله به هغه وئېل چې د حکمران دا فرض وي چې د عوامو د بهبود او د ملک د ترقي خیال وساتي او دا کار صرف په تعلیم کیږي ۔ یو تعلیم یافته سړے د بې تعلیمه سړي په نسبت زیات با اعتماده وي ۔ یو تعلیم یافته سړي ته د خپلو فرائضو او ذمه واریانو احساس وي ۔ تعلیم د غریب د حقونو ضمانت ورکوي ۔ یو غریب سړے په ټولنه کښې صرف د تعلیم په ذریعه اعلی مقام ته رسېدلے شي ۔ تعلیم یافته سړے په قومي نقطه نظر سره سوچ کوي ۔ تعلیم قومي اتحاد، حب الوطنی او د حکمران سره مینې ته وده ورکوي ۔[lxvii] د ۱۹۴۹ نه اول د سکولونو تعداد کم وۀ او په ۱۹۴۹ کښې دا پینځویشتو ته ورسېدلو ۔[lxviii]

په لاندیني جدول کښې په مختلفو کلونو کښې په سوات ریاست کښې د سکولونو تعداد ورکړے شوے دے ۔[lxix]

| کال | هائي | مډل | لوئر مډل | پرائمري | لوئر پرائمري | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1926 | | | | 1 | | 1 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | | 1 | | 1 | | 1928 |
| 6 | | 5 | | 1 | | 1931 |
| 4 | | 3 | | 1 | | 1932 |
| 2 | | 1 | | 1 | | 1933 |
| 3 | | 1 | | 1 | 1 | 1940 |
| 4 | | 2 | | 1 | 1 | 1944 |
| 25 | | 12 | 9 | 3 | 1 | 1949 |
| 32 | | 16 | 12 | 3 | 1 | 1950 |
| 46 | | 21 | 21 | 3 | 1 | 1951 |
| 49 | | 17 | 17 | 14 | 1 | 1952 |
| 51 | | 17 | 17 | 16 | 1 | 1953 |
| 52 | | 16 | 20 | 14 | 2 | 1954 |
| 103 | 47 | 10 | 23 | 18 | 5 | 1955 |
| 115 | 58 | 6 | 28 | 18 | 5 | 1956 |
| 131 | 49 | 30 | 27 | 19 | 6 | 1957 |
| 136 | 49 | 34 | 20 | 24 | 9 | 1958 |
| 140 | 34 | 53 | 19 | 25 | 9 | 1959 |
| 182 | 61 | 68 | 9 | 34 | 10 | 1960 |
| 184 | 58 | 73 | 9 | 30 | 14 | 1961 |
| 178 | 51 | 72 | 9 | 31 | 15 | 1962 |
| 239 | 111 | 73 | 9 | 24 | 22 | 1963 |

د تعلیم محکمه

اول اول د تعلیم د پاره ځانله محکمه نهٔ وه ـ په دغه وخت کښې به د ودودیه سکول پرنسپل د تعلیم د معاملاتو او د ټولو سکولونو انچارج وۀ ـ د ودودیه سکول پرنسپل به د انسپکټر مهر هم استعمالولو ـ[lxx] والي سوات د ډائریکټر تعلیم د نظامت لاندې د تعلیم بېله شعبه جوړه کړه ـ هر کال به نوي سکولونه جوړېدل او زاړهٔ سکولونه به اپ ګرېډ کولے شول ـ والي به د تعلیم پراګرس رپورټ پخپله چیک کولو ـ (ایلم رسالي کتل پکار دي)

سکولونه:

په ټول ریاست کښې پنځوس سکولونه دي په دې کښې څوارلس زره طالب علمان سبق وائي ـ [lxxi]

د جینکو سکولونه

په ۱۹۲۶ کښې د جینکو وړومبے سکول پرانستلے شۀ ـ[lxxii] د جینکو د سکولونو د کمي په وجه به په هغه وخت کښې جینکو او هلکانو یو ځائے سبق وئیلو[lxxiii] په ۱۹۵۷ کښې د جینکو هائي سکول پرانستے شۀ ـ[lxxiv] د خواجه محمد اشرف، اسسټنټ ډائریکټر پبلک انسټرکشن، فرنټیئر ریجن پېښور، د شلم ستمبر ۱۹۵۹ د یو رپورټ مطابق په سوات ریاست کښې د جینکوؤړومبے هائي سکول جوړ دےچې دا د قبائلي علاق په تاریخ کښې د جینکو وړومبے هائي سکول دے ـ د دې سکول انچارج بي اے، بي ټي معلمه ده ـ[lxxv] په (۱۹۶۳) کښې د جینکو درې سکولونه وو ـ پرائمري سکول سېدو شریف په ۱۹۶۰ کښې پرانستے شوے وۀ ـ[lxxvi] مډل سکول مینګوره په ۱۹۶۲ کښې پرانستے شوے و او درېم د سېدو شریف هائي سکول دے ـ [lxxvii] د سوات د ریاست د انضمام په وخت کښې په ریاست کښې د جینکو درې سکولونه پرائمري سکول سېدو شریف، هائي سکول سېدو شریف او مډل سکول مینګوره وو ـ[lxxviii]

جهانزېب کالج

په ۱۹۵۱ کښې د کالج د پاره په دوه چټونو مشتمل عمارت جوړ شۀ ـ په ستمبر کال ۱۹۵۲ کښې په جهانزېب کالج کښې په وړومبي ځل د یولسم داخلې وشوې ـ [lxxix] د جهانزېب کالج بلډنګ د انګریزي حرف اي په شکل جوړ شوے دے ـ د کالج درېم چټ او د سائنس بلاک بیا وروستو جوړ شول ـ په کالج کښې په وړومبي کلاس کښې په (۱۹۵۳) کښې پنځوس طالب علمان داخل شوي وو ـ[lxxx] د جهانزېب کالج عمارت چې جوړ شو نو اول ورته د ودودیه سکول طالب علمان منتقل کړے شو ـ او کله چې هغوي یولسم ته پاس شو نو د کالج کلاسونه پکښې شروع شو ـ جے سپېن یي ذکر داسې کړے دے ـ

The paint was still wet on the newly plastered walls of the school. It was, the principal told us, now being used as a high school. The following year, those who were capable of further study would continue in college classes which were being set up. After that, the college would be the top of an academic pyramid based on the school in each village of the state.

I thought I had caught evidence of Asia's great educational fallacy: beginning at the top. "And when will the village schools be set up?" I asked slyly. "Our Wali has been working on that. Since last year each village has at least one. Saidu has several," I was told.[lxxxi]

په کالج کښې په انټر او په ډګري لېول وړومبي داخل شوي طالب علمان د سوات نه بهر علاقو سره تعلق لرلو ـ په یولسم کښې د وړومبي داخل شوي طالب علم نوم سېد احمد جان او د پلار نوم یي سېد نصر الله جان وۀ او د هغه وخت د مردان اسماعیله وسېدونکے وۀ ـ دغه رنګ په ډګري لېول وړومبے داخل شوے طالب علم محمد اقبال وۀ چې د پلار نوم یي عبدالستار وۀ او د چارسدې د اتمانزو وسېدونکے ۉ ـ[lxxxii]

د متې د کالج او د ډګر کالج بجټ هم والي منظور کړے وۀ او دا دواړه کالجونه بیا د ریاست د انضمام نه وروستو جوړ شو ـ

د تعلیمي خدماتو په وجه جهانزېب والي ته د سلطان العلوم خطاب مېلاو شولو او پېښور پوهنتون ورته د ایل ایل ډي (ډاکټر اف لا) اعزازي ډګري هم ورکړه ـ[lxxxiii]

بونېر

اسسټنټ کمشنر مردان په یو رپورټ کښې لیکلي دي چې د سوات وزیر د هغه سره په اجلاس کښې ووئېل چې باچا صاحب په بونېر کښې د پرائمري سکولونو د پرانستلو منصوبه لري خو د یادوني وړ ده چې د جولائي ۱۹۲۵ پورې په بونېر کښې سکول نهٔ وۀ ـ[lxxxiv]

په تعلیمي ترقۍ کښې د خلقو مرسته

د تعلیمي ادارو د لوبو د مېدانونو د پاره زمکي خلقو مفت ورکړي وي ۔ اول اول به د سکول د عمارت په جوړولو کښې خلقو او د رياست ملېشي په شريکه کار کولو ۔ بيا وروستو به په خلقو او په ملېشي دا مفت کار نۀ کيدلو بلکي ټيکېدار به کار کولو او حکومت به پيسي ورکولي ۔[lxxxv] په اولنو کلونو کښې به د هغه علاقو د استاذانو تنخوا ګاني هم خلقو ورکولي کوم چي به د مرکزي علاقو نه لري وو ۔[lxxxvi] ډبليو ار هے په خپل مونوګراف کښې ليکلي دي چي دري سکولونه په چمله او يو اباسين ته نزدې څکه بند شو چي خلقو به ټېکس نه ورکولو ۔[lxxxvii] وروستو بيا تعليم تر ډېره حده مفت وۀ ۔

سکالرشپ

په رياست کښې مختلف قسمه وظيفي دي ۔ لږ تر لږه وظيفه پنځوس روپۍ او زياتي دري سوه روپۍ وي ۔ دا هغه طالب علمانو له ورکولے شي چي د پاکستان په مختلفو پوهنتونو کښې سبق وائي ۔[lxxxviii] مستحق طالب علمانو ته کتابونه، کپړې او وردي هم مفت ورکولے شي ۔ د پرائمري نه د کالج پورې تليم مفت ے ۔[lxxxix]

د استاذانو تربيت

هر کال د تربيت د پاره استاذان لېږلے شي ۔ د تربيت په دوران کښې استاذانو ته تنخواه، او انکريمنټ مېلاويږي او دوي په ډيوټۍ حسابولے شي ۔ د سکولونو د تعداد د زياتېدلو په وجه بيا هم د تربيت يافته استاذانو کمے دے ۔ د تربيت يافته استاذانو د تعداد اندازه د لانديني جدول نه لګي ۔[xc]

| نمبر شمار | د سکول قسم | تعداد | د استاذانو تعداد |
|---|---|---|---|
| ۱ | هائي سکولونه | ۲۲ | ۳۰۷ |
| ۲ | مډل | ۲۴ | ۴۳۸ |
| ۳ | لوئر مډل | ۹ | ۶۰ |
| ۴ | پرائمري | ۷۳ | ۲۸۴ |
| ۵ | لوئر پرائمري | ۱۱۱ | ۵۴ |
| ۶ | ټوټل | ۲۳۹ | ۱۱۴۳ |
| | | | |

په رياست سوات کښې د تربيت يافته استاذانو تعداد په لانديني جدول کښې ښودلے شوے دے ۔[xci]

| نمبر شمار | تعليمي قابليت | د استاذانو شمېره |
|---|---|---|
| ۱ | B.A, B.Ed | 30 |
| ۲ | J.A.V | 121 |
| ۳ | S.V | 99 |
| ۴ | J.V | 149 |



Pukhtunkhwa Journal

| | | |
|---|---|---|
| 8 | Drawing Masters | ۵ |
| 52 | Drill Masters | ۶ |

د ریاست سوات په ملازمت کښې د پرووېډېنټ فنډ پرووېژن نشته البته په پینځلس کاله نوکرۍ پوره کولو شل تنخواګانې ورکلې .[xcii]

د تعلیمي ادارو الحاق

د سکولونو الحاق د محکمه تعلیم او پېښور پوهنتون سره وي . دوي د پېښور ریجن نصاب وائي . د سکولونو معائنه د پېښور ریجن ډائریکټر کوي او اندروني معائنه ډائریکټر تعلیم سوات کوي .[xciii]

د سوات د خلقو په ژوند د جدید تعلیم اثرات

عصري تعلیم د سوات په ټولنه او د خلقو په ژوند ښۀ او تل پاتې اثرات پرېباسل . د پرسوده خیالاتو په ځائے نوي خیالات راغلل . د جدید تعلیم د اثراتو نه مخکښې به چې په ریاست کښې چا هم مغربي طرز باندې جامې اغوستلے نو هغه ته به یې کافر یا فیرنګے وئیلو . د جدید تعلیم په وجه د دغه شان لباس ستائېنه کیږي او دې ته یو فعال لباس وائي . کله چې خارجیان سوات ته راځي نو سواتیان د هغوي د لباس نقل کوي او د نوي طرز لباس خپلوي .[xciv] په ټول ریاست کښې زیاتره کورونه په یوه کمره مشتمل وو او دا به د زوړ طرز کورونه وو . د جدید تعلیم سره خلقو ته دا احساس وشو چې د صحت مند او خوشحاله ژوند د پاره هوادار او فراخه کورونه ضروري دي . په دې وجه خلقو دا زاړۀ کورونه په نوي طرز جوړ کړل .[xcv] د سوات خلقو ته د تجارت باره کښې لږ علم وۀ . ډېرو خلقو به دا خیال کولو چې د تجارت یا کاروبار کولو سره د هغوي عزت او وقعت کمیږي او دا د هغوي د شان مناسب نۀ دے . هغوي به دا وئیل چې تجارت او دکانداري د پارچګانو کار دے . خو د تعلیم د ودې سره هغوي دا محسوسه کړه چې تجارت هم یوه قابل عزت پېشه ده او د خوشحاله ژوند د پاره ضروري ده .[xcvi]

---

[i] Hay, Major, W.R., Monograph on Swat State, Simla, Government of India Press, 1933, p.4.

[ii] قاسمي، سید عبدالغفور، هدیه ودودیه، بریلي، مطبوعه سوداګر پریس، 1936 ، ص ص: 42،43

[iii] Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969) From Genesis to Merger, Karachi, Oxford University Press, Second Impression 2009, pp. 87,88.

[iv] Hay, Major, W.R., Monograph on Swat State, Simla, Government of India Press, 1933, p.14.

[v] خان، محمد آصف، تاریخ ریاست سوات و سوانح حیات باني ریاست سوات میا ګل ګل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [1958] ، مخ. 379

[vi] Hay, Major, W.R., Monograph on Swat State, Simla, Government of India Press, 1933, p.18.

[vii] Extraordinary issue Registered No. L7332, The Gazette of West Pakistan, Lahore, Friday, August 15, 1969. No. 17 (4) 69. ( The Dir, Chitral and Swat (Administration) Regulation, 1969) West Pakistan Regulation No. 1 0f 1969.

[viii] Notification No. SO/VII-9-74/69 Dated: 16 August 1969.

[ix] فواد احمد (مترجم)، ریاست سوات: 1915 تا 1969،مصنف ډاکټر سلطان روم، مینګوره، شعیب سنز پبلشرز، 2013، ص:250

---

[x] Notification No. SO/VII-9-74/69 Dated: 16 August 1969.
[xi] Honour Board in the DCO [DC] office Swat, (Seen on 19 May 2011)
[xii] Constitution (Sixth Amendment) Act, 1976 (Act LXXXIV of 1976)—recieved assent of the president on 31 December 1976 and issued on 4th January 1977. " Right bank Indus Kohistan separated from Swat District and Kohistan District created, with effect from 1st )October 1976."
[xiii] Govt: of NWFP, Revenue Department Notification No. 23501/ Rev-VI Dated 10-12-1990.
[xiv] Sultan-i-Rome, Forest Governance in Transition: From the Princely State of Swat, and Kalam to the State of Pakistan. WP2/IP6 working Paper No.9, 2008, p.48.
[xv] ختک، خوشحال خان،سوات نامه سره د مقدّمې تحقيق او سمون د همېش خليل، اکوړه ختک، مرکزي خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه، 1986، مخ:81
[xvi] کاکا خېل، سېد محمدتقويم الحق (مقدّمه)، مخزن، مصنّف : اخون درويزه، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، 1987/1969، مخ:ح
[xvii] هم دغه اثر ، مخ:يهـ
[xviii] Bellew, H.W., A General Report on the Yusufzais, Lahore, Sang-e-Meel Publications, 2001, p.226
[xix] درويزه،اخون، مخزن سره د مقدّمې د سېّد تقويم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، 1987/1969، مخ:207
[xx] بدر، بحر کرم، د سوات تاريخي پس منظر، ايلم، د جهانزېب کالج علمي او ادبي مجلّه، 1964، مخ:16
[xxi] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، [1939]، مخ:126
[xxii] زېب سر، تاج محمد خان، عروج افغان (جلد اول)،[1941]، مخ:255
[xxiii] هم دغه اثر، مخ:111
[xxiv] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 126
[xxv] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 223
[xxvi] قاسمي، سېد عبدالغفور، هديه ودوديه يعني سوانح حيات اعلي حضرت بادشاه عبدالودود خان خلد الله ملکه حکمران رياست يوسف زائي سوات و متعلقات، سوداګر پريس پيش ګلي چړهائي نيب بريلي، 1936، ص: 62
[xxvii] قاسمي، سېد عبدالغفور، هديه ودوديه يعني سوانح حيات اعلي حضرت بادشاه عبدالودود خان خلد الله ملکه حکمران رياست يوسف زائي سوات و متعلقات، سوداګر پريس پيش ګلي چړهائي نيب بريلي، 1936، ص: 67
[xxviii] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 69
[xxix] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 218
[xxx] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 227
[xxxi] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 223
[xxxii] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 219
[xxxiii] دانشور، محمود، کافرستان اور چترال، دير سوات کي سياحت، لاهور، الفيصل ناشران، ۲۰۰۶ (وړومبے ايډيشن ۱۹۵۳، ترجمه :خليل احمد)، ص: ۲۰۱
[xxxiv] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 219
[xxxv] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 206
[xxxvi] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 126
[xxxvii] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون کابلي ګېټ، 1939، مخ: 192
[xxxviii] شاهين، محمد پروېش،سوات د سردرو وطن، مينګوره، شعېب سنز پبلشرز اينډ بکسيلرز، 1993، مخ:53-55
[xxxix] شاه، مولوي نور محمد عرف غوبه جان، منظوم تاريخ سوات، [1994]، مخ: 43
[xl] زېب سر، تاج محمد خان، افغاني ديوان زېب سر، 1949 ، مخ:ج
[xli] دانشور، محمود، کافرستان اور چترال، دير سوات کي سياحت، لاهور، الفيصل ناشران، ۲۰۰۶ (وړومبے ايډيشن ۱۹۵۳، ترجمه :خليل احمد)، ص: ۲۰۴
[xlii] محمد صالح، مولوي، (ديباچه) مشموله تفسير تيسير (جلد اول)،مصنف عبداللّطيف ګالوچي،، مينګوره، ناشر: مولوي محمد صالح ، 1984/1925، مخ:ا
[xliii] خان، محمد آصف، تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا ګل ګل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [1958]، مخ: 354



Pukhtunkhwa Journal

---

[xliv] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون كابلي ګېټ، 1939، مخ: 127
[xlv] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.34

[xlvi] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 71

[xlvii] يو كتاب چې اولني دېرش مكونه نۀ لري او اخري مخ يې 411 دے خو پته لګي چې د دې نه وروستو به نورې پاڼې هم وې ۔ اندازه ترې معلومېږي چې دا كتاب د 1949 خواوشا په افغانستان كښې چاپ شوے دے ۔
[xlviii] بخت مشال (اداريه)، ايلم (پښتو برخه)، جهانزېب كالج، دسمبر 1969، مخ: 3
[xlix] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.24
[l] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.25
[li] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.25
[lii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.2
[liii] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 73

[liv] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, pp:26-28
[lv] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p. 30
[lvi] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 75

[lvii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.23
[lviii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.
[lix] قاسمي، سېد عبدالغفور، هديه ودوديه يعني سوانح حيات اعلي حضرت بادشاه عبدالودود خان خلد الله ملكه حكمران رياست يوسف زائي سوات و متعلقات، سوداګر پريس پيش ګلي چړهائي نيب بريلي، 1936، ص: 63
[lx] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون كابلي ګېټ، 1939، مخ: 126
[lxi] قاسمي، سېد عبدالغفور، تاريخ رياست سوات، پېښور، حميديه پريس بيرون كابلي ګېټ، 1939، مخ: 126
[lxii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.23
[lxiii] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 72

[lxiv] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.23
[lxv] خان، محمد آصف، تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات ميا ګل ګل شهزاده عبدالودود خان باد شاه صاحب، [1958] ،مخ: 355

[lxvi] Barth, Fredrik. The Last Wali of Swat: An Autobiography as told to Fredrik Barth,Norwegian University Press/Universitetsforlaget AS, 1985, P. 73
[lxvii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, pp.29-30

[lxviii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.30

[lxix] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, pp. 31,32

[lxx] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 73

[lxxi] دانشور، محمود، کافرستان اور چترال، دیر سوات کي سیاحت، لاھور، الفیصل ناشران، ۲۰۰۶ (وړومبے ایدیشن ۱۹۵۳، ترجمه :خلیل احمد)، ص: ۲۰۴

[lxxii] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 76

[lxxiii] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 76

[lxxiv] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.34

[lxxv] اختر علی، انسانی حقوق اور ریاست سوات کا حکمران، لاہور، مکتبہ الممتاز، ۱۵ اکتوبر ۱۹٦۳، صفحہ: ۸۵

[lxxvi] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.33

[lxxvii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.34

[lxxviii] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 76

[lxxix] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 73

[lxxx] دانشور، محمود، کافرستان اور چترال، دیر سوات کي سیاحت، لاھور، الفیصل ناشران، ۲۰۰۶ (وړومبے ایدیشن ۱۹۵۳، ترجمه :خلیل احمد)، ص: ۲۰۴

[lxxxi] Spain, James W., The Way of the Pathans, Karachi, Oxford University Press, 1990/1962, p. 69

[lxxxii] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 74

[lxxxiii] Barth, Fredrik. The Last Wali of Swat: An Autobiography as told to Fredrik Barth,Norwegian University Press/Universitetsforlaget AS, 1985, P. 114

[lxxxiv] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 72

[lxxxv] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 75

Pukhtunkhwa Journal

[lxxxvi] Sultan-i-Rome, Education in the State of Swat, in Hamdard Islamicus, Karachi, Vol. XXXI ( April-June 2008), p. 76

[lxxxvii] Hay, Major, W.R., Monograph on Swat State, Simla, Government of India Press, 1933, p.24

[lxxxviii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.37

[lxxxix] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.38

[xc] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.41

[xci] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.41

[xcii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.42

[xciii] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.44

[xciv] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.47

[xcv] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.47

[xcvi] Khan, Buner. Growth of Modern Education in Swat State, M.Ed Thesis submitted to the Institute of Education and Research, University of Punjab, 1963, p.48

Pukhtunkhwa Journal